# براهوئي ژبه:

- دا يوه بله لرغوني ژبه ده، چي د قلات ډويژن او د بلوڅو په ځيني نورو مېشتو سيمو کښي ويل کيږي.
- د ماموريت له پلوه دا سيمه پر دوو برخو باندي وېشل کيږي:

- ۱ – سراوان (سرا–شمالي سيمه)

- ۲ – جهالاوان (لاندي، يعني عقبي يا جنوبي سيمه)

# جهالاوان (لاندي، نیچې، یعني عقبي یا جنوبي سیمه)

- د براٸویانو اصلي ټاټوبی د جهالاوان سیمه ده، چي په دې سیمه کښي دوی استوګنه کوي.
- په عمومي ډول سراوان یوه غریزه سیمه ده.
- او جهالان د شمال په لوري لوړ وي، او خلګ یې بزګري او شپه توب یا مالداري دواړه کوي.
- د دې سیمې د خلګو په هکله وٸیل کیږي چي ۷۵ سلنه نفوذ یې کوچیتوب او مالداري کوي.

# برائیوي یوه دراوړي ژبه ده

- برائیوي ژبه د دراوړي (Dravadian) ژبو له کورنۍ څخه ده.
- دا یو مسلم حقیقت دی چي ژبي په خپل ګاونډ کښي له ویونکو ژبو څخه اثرات اخلي.

- په دې هلکه ډاکټر انعام الحق کوثرلیکي:

- د جهالاوان پر برائیوي باندي د سندهي، د افغانستان په شوراوک ولسوالي کښي د پښتو ژبي اثر، او د ایران په سیستان کښي د پارسي ژبي اثر دی.

# ډاکټر عبدالرحمن برائیوي لیکي:

- برائیوي یوه دراوړي ژبه ده، چې له دې سوبه تر اردو ژبې ډېره پخوا دلته وئیل کېدله.
- چې کله ارین دلته راغلو، نو د دوی او دراوړي ژبو په مینځ کښې مېلاپ یا راکړه ورکړه وشوه.
- له دې سوبه د دوی په مینځ کښې تعلق له ډېري لرغوني زمانې څخه دی.
- که څه هم وروسته، برائیوي ژبه تر یوې سیمې (علاقې) پوري محدوده شوه، او له اردو څخه لرې شوه.

# برائیوي ژبه

حنیف خلیل د پاکتساني ژبو په تهذیبي مطالعه کښي لیکي:

- د ارینو تر راتګ له مخه په هندوستان کښي د دراوړي تهذیب اثار پاخه وو، او د دوی له پاتمږو څخه بروئي یا برائیوي ژبه اوس هم ژوندي ده، او په دې ژبه کښي د دراوړي تهذیب اثار اوس هم موجود دي.
- پر دې ژبه باندي د پښتوژبي اثرات ښکاره دي، دا په دې چي پښتو د دراوړي تهذیب تر عصر له مخه ژبه ده، چي پر یوه بله یې اغیزه اړینه ده.

# د پښتو، برائیوي او اردو ځیني مشترک لغات

- سلطان محمد صابر ځیني مشترکي جملې را وړي دي، چې دلته یې د مثال په توګه راوړو.

| پښتو | برائیوي | اردو |
| --- | --- | --- |
| دا څه شی دی | دا انته سې | یه کیا هې |
| پوهه سوې | پوهه مسوس | سمج ګئې |
| ډګر | ډغار | میدان، زمین |
| وار | واري | باري |
| یاغي | یاغي | باغي |

# د بلوڅي او برائيوي ژبو په مينځ کښي توپير

- برائيوي او بلوڅي ژبي په خپل مينځ کښي لوی توپير لري، چي له مخه يې يادونه وسوه.

- بلوڅي او برائيوي دوی بېلي ژبي دي، چي يوه (بلوڅي) د ژبو په اندو-اروپائي کورنۍ کښي له اندو-ايراني ښاخ څخه ده.

- او دويمه (برائيوي) د دراوړي ژبو له کورنۍ څخه يوه ژبه ده، چي يو لرغونی تاريخ لري.